**بلاخره په سوریه کې د امریکا له مزدورو څېرو (اردوغان، روحاني او پوتین) پرده لرې شوه!**

**دا درې کسان دا دنده لري چې د سورېې له لاسپوڅي حکومت څخه د امریکا په ګټه دفاع وکړي، تر څو امریکا ته د دې موقع برابره شي چې په کوریا او چین کې خپلو کړکېچونو ته پام واړوي**



**(ژباړه)**

د ۲۰۱۸م کال د اپرې په ۴مه د روسیې، ایران او ترکیې ولسمشران په انقره کې سره راټول شول او یوه بیانیه یې خپره کړه، د دغې بیانیې له متن او مفهوم څخه په څرګنده داسې ښکارېدل چې دا درې کسه په سوریه کې د امریکا د لاسپوڅي حکومت د ساتنې او د اسلام د حاکمیت لپاره د شام د خلکو د خوځښتونو د ځپلو لپاره ټېنګه اراده لري. نور جزیات دا دي :

اردوغان: اردوغان د انقلاب له پیله تر اوسه د شام له خلکو او انقلابیونو سره دوکه کوي؛ نوموړي د فرات ډال په نوم عملیاتو کې ډېر انقلابیون د خپل دغه «ډال» له مخې لرې کړل چې د حلب د سقوط او بشار ته یې د تسلیمېدو زمینه برابره شي او هماغسې وشول؛ بیا یې د زیتون څانګې تر نامه لاندې نور عملیات پیل کړل او نور وسله‌وال انقلابیون یې عفرین ته وروغوښتل چې بیا د ادلیب او ورپسې د ختیځې غوطې د تسلیمېدو زمینه برابره کړي، چې بیا هم هماغسې وشول چې غوښتل یې. اوس یو ځل بیا د «ډالونو او څانګو» په اړه فکر کوي چې بیا انقلابیون له ادلیب څخه بهر بل ځای ته ولېږي او ادلیب یې له لاسه وباسي.

روحاني-خامنه‌اي: دا خبره له هېچا پټه نه ده چې له سره تر پایه په وسلو سمباله ملیشې د سپاه پاسدارانو او په لبنان کې د ایران د حزب الله او نورو مزدورانو په ګډون یې چې هرې خوا راټول شوي دي او د سورېې په دښتو او غرونو کې

خواره دي چې په ټول ځواک هڅه کوي د شام د ظالم حاکم د ساتنې لپاره په ډېره بې رحمۍ خلک ووژني.
پوتین: په سوریه کې یې ټولوژنې او جنایتونه ټولو ته ښکاره دي؛ البته په دې قضیه کې له اردوغان او روحاني سره د پوتین توپیر دا دی چې پوتین د خپلو جنایتونو توجېه او فریب ته اړتیا نه لري، ځکه هغه په ښکاره له اسلام او مسلمانانو سره دښمني کوي، خو اردوغان او روحاني چې ځانونه مسلمانان بولي، باید د مسلمانانو د تېر ایستلو لپاره له رنګارنګ فریبونو او دسیسو کار واخلي. په دې کې هېڅ شک نشته چې دا درې کسان په سوریه کې د امریکا د لاسپوڅي او غلام حکومت د ساتلو په هڅه کې دي او د دې کار لپاره له هېڅ ډول جنایت او وژنې مخ نه اړوي. دوی ښه پوهېږي چې امریکا د سوریې په حکومت کې ډېر نفوذ لري او دوی د امریکا په استازیتوب جنګېږي چې امریکا د کوریا او چین کړکېچونو ته پام زیات کړي. که دغو دریو یو څه درک هم لرلای، پر دې لار باید نه وای تللي؛ خو ریښتیا دا دي چې شیطان تر خپلو ملګرو داسې چاپېر وي چې هغوی هېڅ نه ویني.
له دې سره سره، باید له یاده ونه باسو چې که هغو ځینو انقلابي ډلو که د دښمن د ګوابښ د سیاست او تطمیع او چټلو پیسو فریب نه وای خوړلی؛ هېڅ کله به دغه جنایت کوونکي- هم دغه درې حکام اوهم امریکا چې د پردې له شا یې کنټرولوي- نه وای بریالي شوي چې دومره جنایتونه وکړي او تر دې حده مخته لاړ شي. هو، که هغه فریب خوړلي نه وای، جنایتکار دښمن به تر اوسه له پښو لوېدلی و. که څه هم حزب التحریر د انقلاب له همغو لومړیو ورځو خپله ټوله هڅه وکړه چې د فرېب خوړلو انقلابي ډلو سترګې او غوږونه په هغه څه خلاص کړي چې شاوخوا یې تېرېدل؛ خو دوی د فریبکارانو خبرو ته غوږ نیوه او داسې یې توجېه کول: هغوی په خپلو امکاناتو او وسلو له موږ ملاتړ کوي، دا داسې کار دی چې د حزب په وس کې نشته او یوازې نصیحت کوي او دا نصیحتونه په هېڅ صورت د دښمن د تورې په مقابل کې زموږ ساتنه نشي کولای. دوی پر دې نه پوهېدل چې دغه توره یې څښتن په لاس کې دوه سره وي؛ که یې کاروونکی هوښیارانه عمل وکړي، د دښمن له ګوزاره یې ساتي او د دښمن د ماتولو لپاره به کلکه وسیله وي؛ خو همدا توره د هغه غولول شوي په لاس کې چې جنایتکارانو په مرستو پسې دی، داسې وسیله ده چې له دښمن مخکې یې کاروونکی له منځه وړي.
هغو نظامي ډلو ته چې زموږ لارښوونې یې نه منلې او نه یې غوښتل چې زموږ تر فکري پوښښ لاندې وي او ویل یې: دا خبرې د جګړې په ډګر کې زموږ هېڅ ستونزه نه حل کوي؛ موږ مالي او تسلیحاتي مرستو ته اړتیا لرو او هغه به له خاینو مسلمانانو، هم له عربو، ترکانو، فارسیانو او حتا په ځینو مواردو کې له جنایتکارې روسیې او امریکا اخیستل او داسې فکر یې کاوه چې د دغو چټلو مالونو اخیستل به د دې لامل نه شي چې ستاسو څخه دفاع وکړي. موږ اوس دغو نظامي ډلو ته وایو: اوس مو د هغو خبرو او کارونو پایله ښه وګورئ؛ کډوالۍ ته یې اړ کړئ او حتا له خپله کوره یې و ایستئ.
خو دا خبره باید هېره نکړو چې د خوړل شوو فرېبونو او اوسني وضعیت سره سره، بیا به هم، که د الله سبحانه و تعالی خوښه وه، دغه امت به ماتې ونه خوري؛ ځکه چې وخت په بدلېدو دی او دا امت څو ځله له داسې او تر دې لویو

ستونزو سره مخ شوی، صلیبیان او تاتاریان یې مات کړل او یو ځل بیا یې د نړۍ رهبري په لاس کې واخیسته. ښایي ځینې ووایي: هغه وخت د دښمن د ماتې او د امت د ویښېدو لامل دا و چې د اسلام حاکمیت و او خلافت که څه هم ضعیف شوی و، خو بیا هم شته و او مسلمانانو داسې یو ځوک لرل چې سره راټول یې کړي، د دښمن پر وړاندې یې منسجم کړي او حق پر باطل زورر کړي؛ خو اوس اسلام حاکمیت نه لري او خلافت نشته، نو څوک به مسلمانان سره راټولوي؟ دا سمه خبره او داسې پوښتنه ده چې له اوسني واقعیت سره بشپړ تطابق لري، خو د واقعیت بل اړخ دا دی چې د خلافت د تاسیس لپاره کار په ډېر قوت روان دی او اوس په ډېری هېوادونو کې د مسلمانانو اصلي غوښتنه خلافت دی او په خپلو خبرو او چلند کې یې ملاتړ کوي او په دې هڅه کې دي چې امت د ۱۳۴۲هـ.ق کال د رجب په ۲۶، ۲۷ او ۲۸ کې تجربه کړې، هغه ورځې چې امت د هغو دسیسو او جنایتونو شاهد و چې د خلافت د سقوط لامل شول، معکوسې کړي او د خلافت په بیا تاسیس روښانه ورځې هغه وخت راولي چې الله سبحانه و تعالی مخکې له مخکې ټاکلې او دا کار د عزیز او توانا الله لپاره ستونزمن نه دی. هغه وخت به خاینان او جنایتکاران خپل واقعیت درک کړي او پوه به شي چې څومره سختې ورځې ورته په تمه دي!

**اې مسلمانانو!** خبر اوسئ چې دغو دریو خاینو د سورېې په حق کې له هېڅ ډول دسیسې او جنایته دریغ نه دی کړی، دوی به هېڅکله د شام د خلکو پر وړاندې د جنایت او وژنې په خاطر د ارامۍ او اسودګۍ مخ ونه ګوري او له داسې ځایه به دردناک عذاب پرې راشي چې حتا تمه به یې نه وي. لکه نور یاران او همفکران یې چې په تېر وخت د شام د خلکو په سخته ابتلا کې ګیر او هلاک شول، اوس هم تاریخ تکرار شوی او دوی به هم د هغو نورو پشان د الله سبحانه و تعالی په خوښه هلاک شي.

﴿إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا﴾

[طلاق: 3]

*ژباړه: الله(سبحانه وتعالی) خپل پلان پلی کوي. پرته له شکه چې الله سبحانه و تعالی د هر څه لپاره اندازه ټاکلې ده.*

وروستۍ خبره مو د مسلمانانو لښکرو ته ده چې په خپلو اډو کې ارام ویده دي: موږ ستاسو واقعیت ته ډېر متعجب یو؛ کله چې خاین حکام د مسلمانانو د وژلو امر درته وکړي، ژر یې منئ؛ خو کله مو چې مسلمانانو مرستې او دفاع ته راوغواړي، پر دوی له ظلمونو سترګې پټوئ او لکه مړي چوپ پاتې کېږئ. دلیل مو دا وي چې ګواکې له خپلو قومندانانو اطاعت کوئ، په داسې حال کې چې له داسې کسانو اطاعت د دې لامل کېږي چې په دنیا کې خلک کرکه درنه وکړي او په اخرت کې دردناک عذاب ووینئ، هلته به هېڅوک نه وي چې دفاع درنه وکړي، حتا هغه کسان چې تاسو د هغوی لپاره بېشمېره خلک وژلي او خپله هم د هغو په دفاع کې وژل شوي وی، الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يَا لَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولاَ وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلاَ﴾

*[احزاب: 66-67]*

*ژباړه: په هغه ورځ چې د دوی څېرې د دوزخ په اور کې پوړته او کښته شي، نو دوی وايي: اخ کاشکې د الله او د رسول پیروي مو کړې وئ، اې ربه موږ د خپلو مشرانو پيروي وکړه او موږ يې گمراه کړلو.*

خو له دې سره سره، باید ووایو چې تاسو اوس هم وخت لرئ چې خپل تېر غفلتونه او اعمال، د الله سبحانه و تعالی دین ته په نصرت ورکولو سره جبران کړئ او د اسلام د حاکمیت کوښښ وکړئ؛ له ظالمانو، منافقینو او استعمارگرو کفارو سره مو اړيکې پرې کړئ، ښايي د تېرو عمالو کفاره مو شي؛ لکه څنگه الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِمَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَى﴾

[طه: 20]

*ژباړه: پرته له شکه چې زه د هغو کسانو لپاره بښونکی یم چې توبه کوي او صالح عملونه کوي او سمې لارې ته راگرځي.*

بله خبره مو ټولو مسلمانانو ته متوجه ده چې داسې نه چې د الله سبحانه و تعالی له رحمته نهيلي شئ! د شام ځمکه به د شام ځمکه وي؛ ځکه چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم په وينا، شام د دارلاسلام اصلي مرکز دی:

احمد په خپل مسند کې له جبير بن نفير څخه روايت کوي چې سلمه بن نفيل هغوی ته ويلي: زه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورغلم او راته ويې فرمايل:

«أَلَا إِنَّ عُقْرَ دَارِ الْمُؤْمِنِينَ الشَّامُ»

***ژباړه: خبر اوسه چې د مسلمانانو اصلي مرکز د شام خاوره ده.***

په يوه بل روايت کې له نعيم بن حماد څخه او ده له کثير بن مره څخه روايت کړی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي:

«عُقْرُ دَارِ الْإِسْلَامِ بِالشَّامِ»

***ژباړه: د اسلام مرکز شام دی***

وروستۍ خبره دا ده چې؛ حزب التحرير داسې يو پېشوا حزب دی چې خپلو پيروانو ته يې کله هم دروغ نه وايي، له امت سره یوځای خپلو مبارزو ته دوام ورکوي او د الله سبحانه و تعالی په فضل او رحمت سره به همداسې پر حق ټينگ ولاړ وي او خپله فکره او طريقه به کله هم بدله نه کړي، ځکه له حقانيت څخه يې ډاډه دي او په خپل رب باندې يې تکيه کړې ده او عزت په اسلام کې پلټي او له الله سبحانه و تعالی څخه په خورا عاجزۍ غواړي چې د دعوت له حاملينو سره خپله وعده محققه کړي، الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِى الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ...﴾

[نور: 55]

*ژباړه: له هغو کسانو سره چې پر الله يې ايمان راوړی او صالحې کړنې کوي، الله ور سره دا ژمنه کوي چې دوی به د ځمکې پرمخ خپل ځايناستي تاکي لکه څنګه يې چې پخواني قومونه خپل ځايناستي کړي وو.*

همدارنګه الله سبحانه و تعالی ته لاسونه لپه کوي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم لاندې زيری چې د دعوت حامليونه ته يې ورکړی دی تحقق پيدا کړي:

**«...ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً، فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ، ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا، ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

***ژباړه:*** *... بيا به د ظلم حکومت وي او تر هغه وخته به وي چې الله غوښتې وي او کله چې الله وغوښتل لرې کوي به يې او وروسته به د نبوت پر منهج خلافت وي.*

راوي وايي رسول الله صلی الله عليه وسلم تر دې خبرې وروسته سکوت وکړ. احمد داسې روايت کړی دی:

**«... ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً، فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ، ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا، ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ نُبُوَّةٍ ثُمَّ سَكَتَ.»**

***ژباړه:*** *... بيا به د ظلم حکومت وي او تر هغه وخته به وي چې الله غوښتې وي او کله چې الله وغوښتل لرې کوي به يې او وروسته به د نبوت پر منهج خلافت وي او بيا [رسول الله صلی الله عليه وسلم] سکوت وکړ.*

حزب داړه دی چې د الله نصرت را رسېدونکی دی او الله سبحانه و تعالی يوازې نبيان او رسولانو ته مرسته نه ورکوي، بلکې رښتينو مومنانو ته هم نصرت ورکوي او دا نصرت نه يوازې په اخرت کې دی، بلکې په دنيا کې هم شته دی، ځکه الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ﴾**

[غافر: 51]

***ژباړه:*** *موږ خپلو رسولانو او مومنانو ته په دنيوي ژوند او اخرت کې نصرت ورکوو.*

په هغه ورځ به مسلمانان د الله د نصرت له امله خوښ او خندان وي او جنايت کوونکي چې د دنيا خوندونه يې څکلي دي د اخرت په سخت او درد لرونکي عذاب سره اخته وي، ځکه الله سبحانه و تعالی انتقام اخيستونکی، جبار او مقتدر دی.

**حزب التحرير**

**۱۴۳۹، د رجب ۱۸مه**

**۲۰۱۸، د اپريل ۵مه**